**(2)شمیره ضمیمه**

**د مقالو محتوا ايي مرور طرزالعمل**

| شمیره | موضوع | شرح |
|---|---|---|
| 1 | د طرحي موخه | – وردګ د لوړو زده کړو موئسسې د علمي- تحقیقی مجلي اړوند چارو او د چاپ لپاره د مقالو د منلو وړ محتوايي جوړښت معیاري کول، تنظیم او ثبات.<br>– د هیواد، سیمي او نړۍ هیوادونو د منل شوو اصول او قواعدو په اساس د وردګ لوړو زده کړو موئسسي د علمي- تحقیقي مجلې له طریقه دچاپ کیدونکو مقالو د لیکلو معیاري کول<br>– د مقالو د تهیه او ټولولو او د سلیقوي کړنو معیارونو او د هغوی غیر اصولي لیکلو د مخنیوي په موخه د یوه واحد چوکاټ ترتیب کول |
| 2 | | د مقالو محتوايي منلو شرطونه |
| | د مقالو ډول | علمي تحقیقي مقالي باید په لاندي ډول وي:<br>– عملي یا ساحوي مقالي:<br>- کتابخانه يي  یا نظري مقالي:<br>علمي تحقیقي مقالي د نشر او یا چاپ لپاره لیږل شوي پورته علمي تحقیقي مقالي مقالي باید د مجلې د نشراتی پالیسی او طرزالعلونو (شکلي، ادبي او محتوايي مرور طرزالعمل) په اساس لیکل شوي وي، |
| | د مقالو حجم | د یوي علمي مروري مقالي حد اکثر حجم چې متن، شکلونه، چارټونه او جدولونه پکي شامل وي باید د ۵۰۰۰-۸۰۰۰ کلیمو څخه تشکیل شوي وي. کلیمو څخه تشکیل شوي وي او د رفرنسونو تعداد يي باید حد اقل ۲۵ معتبره سرچیني وي.<br>د یوي اصلي علمي -تحقیقي مقالي حد اکثر حجم چې متن، شکلونه، چارټونه او جدولونه پکي شامل وي  باید  د ۴۵۰۰ کلیمو څخه زیات نه وي.<br>د یوي علمي – تحقیقي مقالي حد اکثر حجم چې متن، شکلونو، چارټونو او جدولونه پکې شامل دي ۱۰ صفحي چې له ۲۰۰ ولري دي.<br>د یوي اصلي علمي- تحقیقي مقالي حد اقل حجم نباید له ۱۷ صفحي څخه چې ۳۰۰ کلیمي پکې ولري کم وي او مروري مقالي حد اقل حجم نباید د ۱۰ صفحي څخه چې ۳۰۰ کلیمي پکې ولري کم وي. |
| | د مقالو علمي شرطونه | - مقاله باید د لیکونکې بکر اثر وي.<br>- مقاله باید په بل ځای کې نشر شوي نه وي. |

<table>
<tr><th></th><th></th><th></th><th></th></tr>
<tr><td></td><td></td><td colspan="2">- مقاله باید د هغو تحقیق له پایلې څخه لیکل شوې وي چې اخلاقي اصولو پکې مراعات شوي وي.<br>- مقاله باید د علمي آثارو د معنوي مالکیت حقوقو مراعت کولو او د کاپي رایت قواعدو په اساس کیکل شوې وي.<br>- د مقالې موضوع باید د طبیعي او ټولنیز علومو په رشتو کې وي.<br>- د مقالې د محتوا مسئولیت د لیکونکې په غاړه دی.<br>- په مقاله کې باید له معتبرو او نویو علمي سرچینو څخه کار واخیستل شي.<br>- د مطالبو تر منځ باید منطقي ارتباط، انسجام او هماهنګي شتون ولري (لنډیز، سریزه، اصلي متن، موندنه و پایله)<br>- په مقاله کې د ګرافونه، جدولونه، شکلونه او چارټونه باید د چاپ ښه کیفیت درلودونکې وي.</td></tr>
<tr><td></td><td>د مقالو محتوايي جوړښت</td><td colspan="2">علمي مقالې باید دلاندي فارمت په اساس تنظیم شي:<br>د مقالې عنوان | د لیکونکې ځانګړتیاوي | لنډیز | کلیدي کلیمې | سریزه | مواد او روش | مناقشه | پایلې | مآخذونه</td></tr>
<tr><td></td><td>د مقالو محتوا په اړه د مجلې صلاحیت</td><td colspan="2">د مقالې په محتوايي ایډیټ کې مقاله مجله اختیار لري ترڅو د ایډیټ وړ کتنې د لیکونکې سره شریک کړي ترڅو لیکونکی په مقاله کې محتوايي تغیر راوړي.</td></tr>
<tr><td rowspan="2">3</td><td rowspan="2">معیارهای ارزیابی جزئیات ساختار مقالات</td><td>د مقالې سرلیک</td><td>- د مقالې سرلیک به په لنډو کلیمو کې د څېړنې اصلي هدف ښيي.<br>- د مقالې سرلیک باید دهیواد په یوه رسمي ژبه (پښتو، دری) او انګلیسي وي او باید حد اکثر ۱۲ کلیمې وي.<br>- د سرلیک کلیمې باید علمي- تخصصي او کلیدي وي.<br>- په سرلیک کې باید اختصاري او مبهمې کلیمې استعمال نشي.<br>- عنوان باید د محتوا منعکس کوونکی وي.<br>د مقالې سر لیک به ډېر عام فهمه، جامع او د مقالې له محتوا سره سم وي</td></tr>
<tr><td>د لیکونکې/لیکونکو ځانګړتیاوي</td><td>- د اصلي لیکوال نوم، تخلص او علمي رتبه لومړی ذکر کول<br>د لیکونکې/ لیکونکو نوم او تخلص<br>- د لیکونکې/ لیکونکو سازماني تړاو<br>- د القابو د ذکر لکه (ډاکټر، انجنیر، مفتي او داسې نور) څخه ډډه وشي.<br>- د درجې په اساس د لیکونکو تفکیک لومړی مسئول کس، دوهم او ...... چې د لیکونکې په واسطه ترسره کیږي.</td></tr>
</table>

| | | | |
|---|---|---|---|
| لنډيز | لنډيز د ټولې مقالې خلاصه يا نچوړ دی چې د ليکلو پر وخت يې بايد لاندې ټکو ته پاملرنه وشي<br>- لنډيز به د مقالې اهم او اساسي مطلب منعکس کوي.<br>- د اصلي علمي-تحقيقي مقالې لنډيز به د ۲۵۰-۳۰۰ کليمو پورې جامع( د مقالې کلي مفهوم در لودونکی ) او په خپل ذات کې مستقل وي.<br>- د کتابخانه يي يا نظري مقالې لنډيز به د ۲۰۰-۲۵۰ کليمو پورې وي.<br>- د پښتو او دري ژبې مقالو لنډيز بايد په انګليسي ژبه هم ژباړل شوي وي.<br>انګليسي لنډيز بايد لاندې اجزاوې ولري؛<br>Extended Abstract, Introduction, Methodology, Results and discussion, Conclusion and Keywords | | |
| کليدي کليمې | -کليدي کليمې هغه مفاهيم دي چې څېړنه پرې را څرخېږي د کليدي کليمو په ليکلو کې لاندې ټکو ته پاملرنه وکړئ:<br>-کليدي کليمې به له درېو څخه تر اوو کليمو پورې وي<br>-کليدي کليمې به د الفبې په ترتيب سره ليکل شوې وي | | |
| سريزه | په سريزه کې د څېړنې پر موضوع ، د هغې پر ارزښت، هدف، پخواني کارونو او د موضوع په غوره کېدنې بحث کېږي.<br>د سريزې د ليکلو پر وخت لاندې ټکو ته پاملرنه وکړئ<br>- د موجوده څېړنې موضوع څه ده؟<br>-دغه څېړنه ولې مهمه ده؟<br>-د دغې څېړنې هدف څه دی؟<br>-په دغه څېړنه پخوا څه ويل شوي دي يا کومې څېړنې پرې شوې دي؟<br>-موجوده څېړنه به زموږ په پوهه کې څنګه پرمختګ راولي؟<br>-په سريزه کې به په ډېر وضاحت سره د څېړنې موضوع بيان شوې وي<br>-په سريزه کې به د څېړنې په ارزښت او اهميت بحث شوی وي.<br>-په سريزه کې د څېړنې هدف په وضاحت سره ليکل شوی وي.<br>-په سريزه کې به پر پخوانيو کارونو بحث شوی وي. د پخوانيو کارونو ماخذونه به په واضح توګه راوړل شوي وي. (د ماخذونو د کارونې لپاره د ماخذونو برخه وګورئ)<br>-په سريزه کې به پخواني کارونه له اوسنۍ څېړنې سره پرتله شوې وي په دې سره به د اوسنۍ څېړنې اړتيا روښانه شوې وي. | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | -له کومو ماخذونو څخه چې استفاده شوې وي چاپونه به يې تر پنځلسو کلونو زاړه نه وي.<br>-د څېړنې کولو ساحه، ښار يا هېواد د سريزې په اخرينۍ برخه کې را تللای شي.<br>-په APA سبک کې د سريزې جوړښت په لاندې ډول ښودل شوی دی |
| | | مواد او ميتودونه | د موادو او ميتود برخه به په وضاحت سره بيانېږي، د څېړنې په جريان کې له کومو موادو او ميتودو څخه کار اخيستل شوی دی. د موادو او ميتود د برخې د ليکلو پر وخت لاندې ټکو ته پام وکړئ<br>-د تجربو او مدللو لاسته راوړنو وخت بيانول<br>-د څېړنې ځای او د څېړنې تګلاره او فرضيې په وضاحت سره بيانول<br>-په څېړنه کې عملي شوي علمي او ساينټفيک ميتودونه او قواعد په وضاحت سره بيانول<br>-د لابراتواري څېړنو په صورت کې د لابراتوار، يا د هغه د ځای يادونې ته ضروروت نشته اما که چېرې څېړنه په يوه خاص ځای يا لابراتوار کې شوې وي ځکه په بل ځای کې يې د څېړنې امکانات نه وي نو د خپلې څېړنې په مېتود کې د لابراتوار او امکاناتو يادونه يې وکړي.<br>-په کتابتوني څېړنو کې د هم د څېړنې ميتود په وضاحت سره بيان شي .<br>-ټول دياګرامونه، ګرافونه، او جدولونه به په مايکرو سافټ ورډ کې جوړ شوي وي .<br>-ټول عکسونه به په ټول عکسونه به په 300dpi کيفيت لري، بې کيفيته عکسونه د منلو وړ نه دي<br>-ټولې نقشې به د شمال جهت (north direction) لري .<br>-ټولې رياضيکي معادلې او فارمولې به مايکرو سافټ ورډ کې جوړې شوې وي |
| | | مناقشه | د مناقشې د ليکلو پر وخت بايد لاندې ټکي په پام کې ونيول شي<br>-آيا ستاسې د څېړنې موندنې ستاسو پوښتنو ته جواب وايي؟ که داسې وي، نو تاسې خپلې موندنې يا نتايج څنګه تعبيروئ؟<br>-آيا ستاسې موندنې له نورو سره شباهت لري؟ که داسې نه وي، نو آيا ستاسې موندنې بديل تشريحات لري؟<br>-کومې موندنې چې په لاس کې لرئ د هغې پوښتنې په باب نوې پوهه څه ده چې په سريزه کې يې يادونه شوې وه؟ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | -که چېرې تاسې مطلوبې موندنې ترلاسه نه کړلې، وروستۍ پرېکړه به مو څه وي؟<br>-په APAسبک کې د مناقشې جوړښت په لاندې شکل کې ښو دل شوی دی |
| | | پایله | -په پایله کې به د څېړنې لوی ټکي، مهمې موندنې (چې په څېړنه کې تر لاسه شوې وي) او د راتلونکو پلانونو په اړه وړاندیزونه څرګندېږي. |
| | | منابع | -په علمي څېړنیزه مقاله کې به له علمي او اکاډمیکو مجلو، علمي سرچینو او نورو علمي آثارو څخه استفاده شوې وي.<br>-په علمي او څېړنیزه مقاله کې به له درسي نوټونو او نورو درسي موادو څخه ګټه نه وي اخیستل شو ې.(که چېرې استفاده ځنې شوې وي دغه مقاله به په مجله کې نه چاپېږي.<br>-په مقاله کې به لږ تر لږه له اتو سرچینو څخه کار اخستل شوی وي.<br>په یوه مقاله کې به د یوې علمي او اکاډمیکې مجلې له یوې مقالې څخه تر دریو وارو زیات د ماخذ په توګه استفاده شوې نه وي.<br>-ماخد به د APA قواعدو سره سم ذکرشوی وی .مثلآ<br>Townsend, R.M.(1993), The medieval Village Economy.<br>Princeton, Princeton University Press<br>-ماخذونه به د الفبې په ترتیب اوډل شوي وي.<br>-ماخذونو ته به په متن کې سایټېشن د لیکوال د تخلص او د کتاب د چاپ د کال سره ذکر شوی وي. مثلآ<br>Townsend.(1993) |

**نوت:** هره مجله د موجه او منطقي دلایلو په اساس د دي طرز العمل په محتوا کې د تزئید او تنقیص اختیار او صلاحیت لري.

د څېړنو او علمي مجلې آمر — د علمي او محصلانو چارو مرستیال

پوهنیار زاهد الله زاهد — پوهنیار دکتور عنایت الرحمن مایار